AJSC

AFGHAN JOURNALISTS SAFETY COMMITTEE

د افغان خبريالانو د خونديتوب کميته

# د ۲۰۱۸ کال

# د لومړيو شپږو مياشتو رپوټ

د جنوري له ۱ د جون تر ۳۰

د افغان خبريالانو د خونديتوب کميته

www.ajsc.af facebook.com/safetycommittee twitter.com/ajsc_afg

# پیلامه

په هیواد کې د ناامنیو زیاتیدنه ، د جګړې ډینامیک مغلق کیدل، په رسنیو او خبریالانو مستقیم بریدونه او ګواښونه، دا ښيي چې په افغانستان کې رسنۍ د جګړې ترټولو هاغه سوزونکې برخه کې ځای لري، دغه حالت نه یوازې د رسنیو او خبریالانو پر وړاندې، د ګواښونو کچه په بې ساري ډول لوړه کړې، بلکې رسنۍ او خبریالان یې مکلف کړي، چې خپل ځان او خپل خوندیتوب ته جدي پاملرنه وکړي، بې طرفي غوره کړي او هڅه اوکړې چې په جګړه کې د ښکیلو ډلو تر نفوذ لاندې رانشي .

له بلې خوا، د ترهګرو ډلو موجودیت او د نویو را منځته شوو ډلو، په ځانګړې توګه له طالبانو سره د داعش ډلې مناسباتو او اهدافو په اړه د سمو معلوماتو نشتوالي، له تاکتیکي او ستراتیژیک اړخه، د خبریالانو او رسنیو لپاره ګواښ خطرزیات او پیچلی کړی دی.

د اپریل په ۳۰ نیټه د خبریالانو پر وړاندې د ترهګرۍ برید، چې نهه (۹) خبریالان یې ووژل، ټولو خبریالانو ته د ګواښ یو مشترکه نقطه ده، هغه پیښه چې د خبریالانو امنیت یې له جدي ننګونو سره مخ کړی، د خبریا لانو دامنیت ساتلو په وړاندې یې لوی خنډونه جوړ کړي. پر خبریالانو او رسنیو برید او اغیزو یې د خبریالانو د امنیت او سلامتیا په وړاندې جدي اندیښنې راپورته کړې دي. دغه برید او پر رسنیو او خبریالانو اغیز یې د خبریالۍ د مسلک د امنیت و سلامتیا په اړه جدي اندیښنې را ولاړې کړې دي. دغه بې مخینې او مرګونې حمله په دې معنا ده چې ترهګرې ډلې د ازادو رسنیو او خبریالانو موجودیت د خپل ځان پرووړاندې ستر خنډ ګڼي او دخپلې خوښې تبلیغاتي فضا د رامنځته کولو په خاطر د خبریالانو په وژنه لاس پورې کوي.

تیرکال د لومړي ځل لپاره په رسنۍ په هدفمنده توګه تربرید لاندې راغلې، پرموبي ګروپ، د ننګرهار پر ملي راډیو ټلویزون برید او په کابل کې پرشمشاد ټلویزون برید یې له چوتو بیلګو څخه شمیرلی شو.

د رسنیو د مالکانو او حکومت له لوري د رسنیزو قوانینو او د خبریالانو دخوندیتوب اصل ته نه پاملرنه په هیواد کې د رسنیزو کارونو پر وړاندې له جدي ننګونو څخه دي.

د لومړي ځل لپاره د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د معلوماتو د رسونې د برخې د یو ګڼ شمیر شهیدانو رقم ، بوګنونکی دی.

معلوماتو ته نه لاسرسی لاهم د خبریالۍ او ژورنالستیکو فعالیتونو پرووړاندې یوه جدي ستونزه بلل کیږي. دولتي مسوولین لاهم دولتي معلومات خپل شخصي ملکیت ګڼي او یا یې هم دولتي اسرار بولي.

د خبریالانو کاري خوندیتوب هم د خبریالانو او رسنیو د کارکونکو له دایمي ستونزو څخه یوه ده چې یو علت یې د خصوصي رسنیو د تاسیس او فعالیت د مقررې نه عملي کیدل دي.

خبریالان د کار دقانون او د خصوصي رسنیو د تاسیس او فعالیت د مقررې په موجودیت کې لاهم له لازمو امتیازاتو بې برخې دي.


دا د خبریالانو د خوندیتوب د کمیټې یوولسم راپور دی ، چې په کې د **۲۰۱۸** م کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د خبریالانو او رسنیو د خوندیتوب وضعیت څیړل شوی . په دغه راپور کې، د خبریالۍ په ډګر کې ځینې نورو لویو مسلو په اړه هم خبرې شوي دي .
د یادونې وړ ده چې د خبریالانو او د رسنیو د کارکوونکو پر وړاندې د تاوتریخوالي احصایه او دغه راز د دې احصایې په ثبتولو کې د خوندیتوب د کمیټې کړنلارې د پیښو په ثبتولو کې په پام کې نیول شوي دي. دا پدې مانا ده، چې کمیټې یوازې هغه موارد ثبت کړي چې رسنیو او خبریالانو پورې اړوندې قضیې وي، مګر هغه قضیې چې د ژورنالیزم کار پورې اړه نه لري په دې راپور کې شاملې نه دي.

## د ۲۰۱۸ م کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د خبریالانو پر وړاندې تاوتریخوالي


د **۲۰۱۸** م کال په لومړیو شپږو میاشتو کې، په افغانستان کې د رسنیو د کورنۍ او خبریالانو لپاره خونړۍ موده وه. په دغو شپږو میاشتو کې د خبریالانو یاهم د رسینو د کارکوونکو پر وړاندې **۸۹** د تاوتریخوالي پیښې ثبت شوې دي، چې **۱۱** هغه یې د خبریالانو د وژل کېدو دي، چې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي بې سارې او تر ټولو شدیدې پیښې دي. دې کې ټول هغه خبریالان چې په دغه موده کې وژل شوي دي په مستقیم ډول ترهدفي بریدونو لاندې راغلي دي . له دغه جملې **۹** تنه ژورنالیستان د کابل د ځانمرګي برید په پایله کې ووژل شول او د دغه برید مسوولیت داعش وسلوالو په غاړه واخیست، یو تن خبریال په کندهار او بل په خوست ولایت کې د هدفي بریدونو په پایله کې ووژل شول مګر هیڅ ډلې ددغو دوو بریدونو مسوولیت په غاړه وانخیست.
مګر مهمه خبره داده ، چې د خبریالانو د وژل کیدو تر څنګ د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې **۱۹** قضیې د توقیف او بدچلند، **۱٤** قضیې د وهل ټوکلو، **۱۱** قضیې د ټپي کیدو، **۲۸** قضیې د ګواښونو، **۵** قضیې د زنداني کولو او **۱** قضیه په غیرې قانوني توګه له دندې د ګوښه کولو په تړاو ثبت کړې دي.
دغه شمیره د **۲۰۱۷** کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله **۲۲٪** سلنه زیاتوالی ښیي، کمیټې هغه مهال دخبریالانو پروړاندې د وتاوتریخوالي **۷۳** قضیې ثبت کړې وي.
له بده مرغه د تاوتریخوالي تر ټولو زیاتې پیښې حکومت پورې اړوندې پیښې دي ، چې **۳۷** قضیې کیږي، مګر بیا هم تر ټولو ناوړه پیښې د وسله والو مخالفینو او ترهګرو له لوري ترسره شوې دي ، **۳٦** پیښې د طالبانو او داعش له لوري ترسره شوي، چې یوازې یوه پیښه د حکومت په نسبت پکې کمه ده ، په **۲** پیښو کې تاوتریخوالی د رسینو له لوري ترسره شوی او پاتې نورې **۱٤** پیښې د نامعلومو وسلوالو له لوري ترسره شوې دي.
**۳۷** پیښې چې ډیری یې د داعش او طالب وسلوالو له لوري ترسره شوې دي، د حکومت لوړ پوړې چارواکي او امنیتي کارکوونکې په دوهم ردیف کې ځای لري چې د ګواښ او تاوتریخوالي **۳٦** پیښې پکې شاملې دي.
نامعلوم وسلوال په دریم ردیف کې ځای لري چې **۱٤** پیښې ددوی له لوري شوي او د رسنیو مسوولین او مدیران د بد چلندۍ د **۲** پیښو مسوول دي، **۱٤** پیښې د افغانستان په سویل ختیځ کې، **۱۱** پیښې په سویل کې، **٦** پیښې په شمال ختیځ کې، **٤** پیښې په شمال، **٤** پیښې په ختیځ کې او **۳** پیښې په مرکز کې ترسره شوې دي .

# د ۲۰۱۸م کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۸۹ مورده ثبت شوي

## د تاتریخوالو ډولونه او شمیرې





## د خبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالو شمیرې د افغانستان د بیلابیلو زونونو په اساس



## د تاوتریخوالي شمیرې د جنسیت له مخې

**۸۳ نارینه** — **٦ میرمنې**



## د خبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالو شمیرې د افغانستان د بیلابیلو ولایتونو په اساس




## د ۲۰۱۸ کال دشپږو میاشتو پرتله د ۲۰۱۷ کال له شپږو میاشتو سره


| | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۸ | |
|---|---|---|---|
| ټولې قضیې | ۷۳ | ۸۹ | ۲۲٪ لوړوالی |
| وژل شوي | ۱۰ | ۱۱ | ۱۰٪ لوړوالی |
| ټپیان | ۱۲ | ۱۱ | ۸٪ لوړوالی |
| وهل ټوکل | ۱۹ | ۱٤ | ۲٦٪ لوړوالی |
| سپکاوی | ۱۸ | ۱۹ | ۵٪ لوړوالی |
| ګواښ | ٦ | ۲۸ | د څلورو نیمایي زیاتوالی |
| ایستل | ۳ | ۱ | دو هغومره کموالی |
| نیول | ۵ | ۵ | |

### د تاوتریخوالو عاملین

### ۲۰۱۷




### ۲۰۱۸



د کمیټې د تحلیل پر بنسټ، دخبریالانو او رسنیو پر وړاندې د تروریستي ډلوګواښونو د تاوتریخوالي په کچه کې د زیاتوالي اصلي لاملونه دا دي:

١. **د افغان جګړې نا متناظره حالت:** د دې جګړې په شرایطو کې، پوځي قوت د مخالف لوري د پوځي قوت په نسبت ډیر دی، کمزوري خوا هڅه کوي ، چې د رسنیو اجنډا کنټرول کړي، یا نفوذ سره د قدرت توازن رامنځته کړي. دا په حقیقت کې یو هدف دی، چې طالبان او داعش وسلوال یې لیوالتیا لري. د رسنیو او خبریالانو ترمنځ د ډار د خپرولو له لارې دوی غواړي ، چې د رسنیو خپرونې ددوی د ګټو سره سم وي، دوی نه یوازې د خلکو ترمنځ ویره ډیروي، بلکې د خلکو په ذهنونو کې د خپل قدرت توازن هم رامینځ ته کوي.

٢. رسنۍ په هیواد کې د خلکو د پوهاوي لوړولو او دیموکراتیکو پروسو په رامینځته کولو کې مهم رول لوبوي. په تیرو ١٥ کلونو کې په افغانستان کې د رسنیو کار، د خلکو پوهه د افغانستان او نړۍ د حالاتو په اړه لوړه کړې، په عین حال کې، له چارواکو څخه د خلکو هیله، د دوی د ژوند د شرایطو او خدماتو ته د لاسرسۍ په اړه هم زیاته شوې ده، دا هغه څه دي چې د ترهګرو د ګټو په خلاف پرمخ ځي، ځکه چې دوی یوازې په هغه حالت کې ځای لري، چې خلک ناپوه وي، چې په دې ډول سره دوی کولی شي د خپلو سیاسي او نظامي اهدافو لپاره خلک وکاروي.
٣. ترهګرۍ ډلې د خبریالانو او رسنیو ترمنځ ویره رامینځته کوي، ترڅو یوه داسې فضا رامینځ ته کړي، چې رسنۍ ددوی جرمونه پټ کړي. په هر ترهګریز برید کې، چې اکثریت ملکي وګړي وژل شوي یا ټپیان شوي دي ، د طالبانو او نورو ترهګرو ډلو له لورې اعلان کیږي، چې وژل شوي خلک نظامیان یا بهرنیان دي حال دا چې دا ټول حقیقتونه د رسنیو له لارې برملا کیږي، د ترهګرو ډلو دا تاکتیک، د هیواد په نا امنه ولایتونو کې ، چیرته چې د طالبانو او نورو وسلوالو نفوذ ډیر دی یا هغه سیمې چې ددوې تر ولکې او کنټرول لاندې دي، بریالی دی. د بیلګې په توګه، په هلمند، غزني، کندهار او خوست ولایتونو کې، خبریالان د طالبانود جرمونود قضیې په اړوند خورا احتیاط څخه کار اخلي او د دې جرمونو پوښلو لپاره په یو څه حد کې کار کوي. دا د ژورنالیزم او رسنیو د ازادۍ اصل تر پوښتنې لاندې راولي.

د خبریالانو په وړاندې د تاو تریخوالي اصلي لامل د حکومتي چارواکو د مجازاتو څخه د معافیت دوامدار کلتور دی .د خبریالانو د مصونیت په اړه د ولسمشر د متعددو فرمانونو لیږل او ټینګار سره ، حکومتي چارواکي لا تراوسه د مجازاتو څخه معاف دي، چې همدا کلتور ددې لامل شوی چې د ژورنالیستانو په وړاندې یې تاوتریخوالي دوام پیدا کړی .
د **٢٠١٨** کافرداپریل د**٣٠** مې پیښې نه وروسته، چې په کې٩ کسه ژورنالیستان ووژل شول، د خبریالانو د خوندیتوب په اړه اندیښنې زیاتې شوې. نه یواځې دا اندیښنه وه ، چې نهه تنه ژورنالیستان په یوه پیښه کې وژل شوي وو، د برید نوعیت او څرنګوالی هم جدي اندیښنې را ولاړې کړې.

دا چې خبریالان غیرنظامي خلک دي او په عینې وخت کې د پېښود پوښښ ورکولو مسوول دي، ځکه د ترهګرو ډلو له بریدونو ډېر زیان منونکي دي، خبریالان نه شي کولای چې له ځانه سره وسلې او یا ساتونکې وګرځوي او هم د پېښو د خبري پوښښ په وخت کې د امنیتي ځواکونو له لوري د دوی امنیت ته هیڅ ډول پاملرنه نه کیږي. دغه ستونزې ددې لامل شوي چې د ډیرو پېښو د خبري پوښښ پرمهال خبریالان له ستونزو سره مخ شي، له بل لوري د خبریالانو ترمنځ د روحې فشار رامنځته کیدل یوه جدي ستونزه ده چې د کار په وخت کې ورته ستونزې پیداکوي. دغه برید ددې لامل شو چې په افغانستان کې د ازادې خبریالۍ پر وړاندې خنډونه رامنځته شي. له دې ټولو ګواښونو اوخطرونو سره سره، د افغان خبریالانو جرات د خپلو مسلکي کارونو د دوام لپاره د ستایلو وړ دي.

که څه هم **۲۰۱۶** او **۲۰۱۷** م کلونه د خبریالانو لپاره ښه کلونه نه وو، او یوازې په **۲۰۱۷** کې، د افغان رسنیو کورنۍ خپل۲۵ غړي په دغه کال کې له لاسه ورکړل، مګر واضح توپیر دا و چې په **۲۰۱۷** کال کې تر ډیره رسنیز مرکزونه تر برید لاندې وو، خو په **۲۰۱۸** کې د لومړي ځل لپاره په کابل کې یوه ډله خبریالان، د ځانمرګي برید هدف وګرځیدل، تنه خبریالان پکې ووژل شول او اوه نور ټپیان شول.

ددې ډول بریدونو مسوولیت داعش وسلوال اخلي ، مګر په **۲۰۱۵** م کال کې د موبي ګروپ په کارکونکو باندې د ترهګریز برید مسوولیت د طالبانو له لوري واخیستل شو، چې په دې برید کې اته تنه خبریالان ووژل شول، دا په دې مانا چې طالبان هم په خبریالانو هیڅ ډول رحم نه لري.

که څه هم داعش په ننګرهار کې د خپلې رسنۍ له لارې د خبریالانو د نوم او ادرس په ذکر کولو سره، او یا هم په ستغې لهجې او کلیمو سره هغوی ګواښي، داپخپله پر خبریالانو یو ډول رواني برید دی، چې دخبریالانو ترمنځ د ویرې د ډېریدو لامل ګرځي.

په یوه وروستي مورد کې، **۲۰۱۸/۶/۱** په غزني کې د طالبانو د شریعت غږ راډیو له بمبارۍ وروسته، دغې ډلې د یوې اعلامیې په خپرولو سره ټولې رسنۍ وګواښلې.

طالبانو په شریعت غږ راډیو باندې برید د بیان پر ازادۍ برید وګاڼه او ګواښ یې وکړ چې که په راتلونکې کې د هغوی د رسنیو پروړاندې داسې کوم عمل ترسره شي نو دوې هغه رسنۍ چې ددوی په وینا د بهرنیانو له لوري تمویلیږي، په نخښه کړي.

له بل لوري په اکثرو ولایتونو کې لیدل شوي، چې طالبان هڅه کوي ترڅو خبریالان د خپلو پروپاګندا د خپرولو لپاره وکاروي، دغه کار خبریالان له جدي ستونزو سره مخ کړي دي، مګر ډیری خبریالانو داسې لارې غوره کړي، چې له یوې خوا څخه د دوی د ژوند خطر کم کړی له بلې خوا د معلوماتو د رسونې کار ته هم دوام ورکړی. د بیلګې په توګه طالبانو ته یې ویلې چې موږ یوازې معلومات رسوو، دا چې خبر څنګه خپریږي ددوی په لاس کې نه دی، ددې مسوولیت ددوی ادارو ته ورترغاړې دی او یا هم د راپورونو په یوه برخه کې، ددوی دقوماندانانو یا ویاندویانو له قوله ویل شوي خبرې د ادعا په توګه راوړي، مګر په عمومي توګه د خبریالانو پر وړاندې ددې ډلې ارادې هیڅ کله هم ښې نه وې او نه هم ښې دي.

## معلوماتو ته د لاسرسي محدودیدل

په حکومتي ادارو کې او یاهم په خصوصي هغو کې معلوماتو ته لاسرسی ددې هیواد د هر وګړي حق دی او قانون یوازې خبریالان نه دي استثنا کړي. دولتي کسان په هیڅ وجه دا حق نه لري چې د افغانستان اتباعو ته د معلوماتو له ورکړې ډډه وکړي .
په ځانګړې توګه له حکومته د خبریالانو شکایت دادی چې ډیری حکومتي مسوولین لازم معلومات لکه څنګه چې ښایي په سمه توګه او مناسب وخت هغوی ته نه ورکوي او د تمې خلاف له خبریالانو سره ډېر تریخ او قهرجن چلند هم کوي.

### د ناسمو معلوماتو د ورکولو په خاطر د حکومت پر ویاندویانو نیوکې

کله چې د مې په میاشت کې د فراه په ولایت کې جګړه روانه وه، د کورنیو چارو وزارت ویاند، ددفاع وزارت ویاند او د جمهوري ریاست په ویاندویانو باندې تور ولګول شو چې د فراه جګړې په تړاو یې د تیر کال انځورنه خپاره کړي ، چې په دې ډول سره یې د معلوماتو جعل کړی دی.
حکومت د جګړې پر مهال د دقیقو معلوماتو د نه شریکولو له امله له سختو انتقادونو سره مخ شو .
د حکومت ویاندویانو د وسلو او مهماتو انځورونه خپاره کړل ، چې د حکومت له مخالفینو ترلاسه شوي دي ، یا هم دا چې د حکومتي ځواکونو ځانګړې قطعه دغه ښار ته ننوتې ده، همدارنګه یو شمیر طالبان د ښځو په کالیو کې د حکومت له لورې نیول شوي دي ، مګر وروسته مالومه شوه چې دا انځورونه یو کال وړاندې په ټولنیزو رسنیو کې خپاره شوي وو.
دحکومت د ویاندویانو دغه کار ځکه تر سختو نیوکو لاندې راغلل ،چې دوی ناسم معلومات له خلکو سره شریکول ، اومعلوماتو ته لاسرسی چې د خلکو قانوني حق دی محدود کړی دی.
د ۲۰۱۸د اپرل په ۱ نیټه د طلوع نیوز د راپور له مخې ، ولسمشر محمد اشرف غني امر وکړ، څو د رایې اچونکو اصلي ارقام دې له خلکو سره نه شریکیږي ، راپور زیاتوي چې، په یو شمېر ولایتونو کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون رییسان د رایې اچونکو د نوم لیکنې اصلي ارقام له خبریالانو سره نه شریکوي او وایي چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون رهبری او همدارنګه ولسمشر د یو ویډیویي کنفرانس له لارې دوی ته سپارښتنه کړې چې د رایې ورکونکو اصلي ارقام دې له هیچا سره نه شریکیږي.
حکومت پر انټرکانټیننټال هوټل د برید په اړه له خبریالانو سره ډېر کم معلومات شریک او د پېښې د څرنګوالي په اړه ډېر ناڅیزه جزییات رسنیو ته ورکړل، خبریالانو څه باندې یوې اوونۍ پورې کانتیننتال هوټل ته د ننوتلو حق نه درلود، خبریالانو یوازې د پېښې په څلورمه ورځ وکولی شول، د هوټل انګړ ته ننوځي، خو د پېښې اصلي ځای او د مېلمنو خونو ته د ننوتو اجازه یې نه درلوده.

د ۲۰۱۸ م کال د جنورۍ میاشتې په ۲۰ مه نېټه د کانتیننتال پر هوټل برید وشو، د پنجشنبې ورځ د جنورۍ ۲۵ مه د پېښې شپږمه ورځ د خبریالانو خوندیتوب کمېټې له یو شمېر خبریالانو سره خبرې وکړې، د خبریالانو په وینا چې تر دغه مهاله دوی نه وو توانېدلي د پېښې له اصلي سیمې په مکمل ډول لیدنه وکړي، د سې شنبې په ورځ دوی ته د هوټل انګړ ته د ننوتلو اجازه ورکړل شوه، خو د هوټل پورتنۍ برخې چې د پیښې اصلي ځای او د تلفاتو اصلي جغرافیه وه، له خبریالانو څخه پټه وساتل شوه او هغوی ته تر پایه اجازه ورنکړل شوه، څو د پېښې له اصلي ځای څخه لیدنه وکړي.
خبریالان وایي د یادې پېښې په اړه حکومت له خبریالانو سره ډېر کم معلومات شریک کړل او لازمه همکاري یې پدغه برخه کې ونکړه.
د طلوع نیوز خبریال شریف امیري د پېښې له لومړۍ ورځې په سیمه کې و او طلوع نیوز ته یې شېبه په شېبه راپور ورکاوه، امیري وایي: ( دولتي ادراري مسوولیت یو پر بل اچوي، هیڅوک معلوماتو ورکولو او د خبریالانو پوښتنو ځوابولو ته چمتو نه دی، همدارنګه د پېښې سیمې ته د ننوتو اجازه هم موږ ته نه راکول کېږي).
د کورنیو چارو وزارت مرستیال ویاند نصرت رحیمي د افغان خبریالانو خوندیتوب کمېټې سره په خبرو کې وویل چې، د هوټل په ځلورم او پنځم پوړ کې د چاودېدونکو توکو د پاتې شونو او د خبریالانو د ژوند خوندیتابه په خاطر هغوی ته اجازه نه ورکول کېږي چې د هوټل له پورتنیو ساحو لیدنه وکړي، حقیقت موندونکې ډله د پېښې په اړه پر څېړنو او تحقیق بوخته ده او هر کله چې دغه پلاوی لازم وبولي خبریالانو ته به هوټل ته د ننوتو اجازه ورکړل شي، هغه زیاته کړه، د یاد پلاوي رهبري د یما کرزي په نوم د ولسمشرۍ ماڼۍ استازی په غاړه لري.
خو د ولسمشرۍ ماڼۍ د مطبوعاتي دفتر سرپرست شاه حسین مرتضوي د خبریالانو خوندیتوب کمېټې ته وویل چې، د هوټل د امنیت تامینولو لپاره له شخصي کمپنۍ سره د تړون په اړه رسنیو سره معلومات شریک شوي، مرتضوي هم د هوټل پورتنیو پوړونو ته خبریالانو ته د اجازې نه ورکولو علت د پېښې په سیمه کې د چاودېدونکو توکو موجودیت یاد کړ، خو مرتضوي ټینګار وکړ چې، همدا نن (چهار شنبه) د پېښې په پنځمه ورځ ولسمشر د کابینې په ناسته کې سپارښتنه وکړه څو د پېښې په اړه څېړنې دې ژر تر ژره له رسنیو او خلکو سره شریکې کړای شي.
د ورځې په پای کې د کورنیو چارو وزارت ویاند خبري ناسته راوبلله او د مړو شمېر یې ۱۸ او د ټپیانو شمېر لس تنه اعلان کړ، په مړو کې ۱٤ تنه بهرنیان ښودل شوي وو، چې د دغو بهرنیانو یو شمېرهغو یې له کام ایر هوایي شرکت سره کار کاوه.
دا پر کانټیننټال هوټل د برید په اړه وروستي معلومات و چې، د کورنیو چارو وزارت له رسنیو سره شریک کړل او نور هېڅ ډول بدلون پکې رانغی، یو شمېر رسنیو د کورنیو چارو وزارت په نقل د تلفاتو شمېر شل تنه وښود، خو د حکومت له منځه یو شمېر سرچینو وویل چې د تلفاتو شمېر له ٤۰ تنو زیاته وه، هغه څه چې د حکومت له ارقامو سره ډېر توپیر لري.
که څه هم تاکل شوې وه د کورنیو چارو وزارت د انټرکانټننټال پر هوټل تر برید یوه اوونۍ وروسته د پېښې جزییات له خلکو سره شریک کړي، خو تر اوسه هیڅ ډول معلومات د حکومت له لوري پدغه برخه کې رسنیو ته په واک کې نه دي ورکول شوي.

## ولایتونو کې

معلوماتو تـه د لاسرسي ستونزه د تېر په څېر پر خپل ځای پاتې او لا هـم سیمه ایز چارواکي هغه کـه پوځـي چارواکـي دي او یـا ملکـي ځانونـه د معلوماتـو مالـکان ګڼـي او حتـی د دوی یـو شمېر حاضر نه دي چې لږ تر لږه له خبریالانو سره ډیره عادي همکاري وکړي.
پـه ځینـو برخـو کـې د ریاسـتونو، آمریتونـو او حتـی د ډېـرو عـادي مدیریتونـو مسـوولین هـم خبریالانـو تـه دا بهانـه کـوي چې، د مرکز لـه لـوري ورتـه لـه رسنیو سره د خبرو اجـازه نـه ده ورکـړل شـوې او خبریـالان بایـد حتـی د ډېـرو کوچینـو موضوعاتـو لپـاره د مربوطـه وزارت لـه ویانـد سره اړیکه ونیسي.
د هېـواد نافذه قوانیـن اطلاعاتـو تـه لاسرسـی د خلکـو لـه اساسي حقونـو څخـه ګڼـي او لومړنـی هغـه قانـون چـې ولسـمشر دخپـل کار لـه پیلیـدو وروسـته توشـیح کـړی ، هغـه معلوماتـو تـه د لاسرسي قانـون دی، سره لـه دې چـې د دغـه قانـون د مـوادو پـه تـړاو یـو شـمېر ملاحظـې موجودې وې.
لـه نیکـه مرغـه د۲۰۱۸ کال دمـارچ میاشې په ۳ یمـه نېټـه معلوماتـو ته د لاسرسي قانـون د تعدیل طرحـه د کابینـې پـه غونـډه کـې تائیـد شـوه، دغـه طرحـه پـه پنځـو فصلونـو او ٤١ مـادو کـې د قوانینو کمیټې له لورې تائید شوه .
جوړښـت او د معلوماتـود لاسرسي قانـون د څـار د کمیسـیون دنـدې، د معلوماتـو د ورکـړې خنډونـه، فـورم او د معلوماتـو د اخیسـتو غوښـتنه هغـه مـوارد دي چې معلوماتـو تـه د لاسرسي قانون په نوې طرحه کې ورته ځای ورکړل شوی دی.
خـو لـه بـل پلـوه د دغـه قانـون د ګټـو پـه اړه د حکومتـي مسـوولینو نـه خبرتیـا او همدارنګـه د دغـه قانـون په اړه د دوی غفلـت ، د دې باعـث ګرځـي، چې یـاد قانـون سم پلـې نـه شي، د یـو ډېر ښـه قانـون د شـتون سربېره بیاهـم پـه دغـه برخـه کـې ستونزې حـل شـوې نـه دي بلکـې ورځ تـر بلـې پـه زیاتېدو دي.

# پایله

د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې تاوتریخوالی او امنیتي ستونزې په زیاتېدو دي، د تاوتریخوالي د زیاتېدو اصلي عوامل د نا امنۍ او بې ثباتۍ زیاتېدل، د معافیت کلتور دوام، د قوانینو ناسم تطبیق، د جګړې په محراق کې د رسنیو واقع کېدل او داسې نور دلایل دي.

د ۲۰۱۸ م کال لومړنۍ شپږ میاشتې د خبریالانو خوندیتوب کمېټې د راپور ورکونې په ټوله موده کې تر ټولو خونړۍ هغه ده، په مستقیم او هدفي بریدونو کې د ۱۱ تنو خبریالانو وژل کېدلو سره د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې د تاوتریخوالي زیاتېدو اندېښنې لا ډېرې شوې دي.

د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د کچې لوړېدل، د تروریستي ډلو د جنایتونو د خپراوي په تړاو د خبریالان او رسنیو د ځاني سانسور لامل ګرځېدلی، دغه موضوع په یو شمېر هغو ولایتونو کې ډېره د پام وړ ده چې هلته د تروریستي ډلو فعالیتونه ډېر دي. لکه: هلمند، کندهار، غزني او ننګرهار له هغو ولایاتو څخه دي چې د خبریالانو له لوري ځاني سانسور پکې لیدل کیږي.

هغه چاره چې، د اپریل میاشتې په ۳۰ مه نېټه د نهه تنه خبریالانو په وژلو کې ورنه استفاده شوې وه، نه یوازې د رسنیو ترمنځ د خبریالانو د خوندیتوب اندېښنې زیاتې کړې، بلکې د خبریالانو او رسنیو له لوري یې د تروریستي پېښو دخبري پوښښ پرمهال د ورته پېښو د تکرار د اندېښنو له امله ستونزې را پیدا کړې دي.

پر خبریالانو د اپریل میاشتې برید د خبریالانو د خوندیتوب وضعیت لا پیچلی کړی دی ، د امنیتي بنسټونو د ظرفیت په نظر کې نیولو سره، باید امنیتي ځواکونه او خپله رسنۍ د پېښو د پوښښ پر مهال د یو منظم طرز العمل له مخې ګټور تدابیر په نظر کې ونیسي، دغې مسئلې پر خبریالانو د ورته بریدونو اندېښنې لا زیاتې کړې دي.

معلوماتو ته د لاسرسي په لار کې د ننګونو دوام او د ناسمو معلوماتو ورکونه د خبریالۍ پر وړاندې د یوې لویې ستونزې په توګه پاتې ده، د معلوماتو د وړاندې کولو په برخه کې د حکومت اوسني لیدلوري نه یوازې د خبریالانو پر وړاندې ننګونې او ستونزې زیاتې کړې دي، بلکې د خبریالانو او حکومت ترمنځ یې واټن هم زیات کړی او خبریالان یې دې ته اړایستي څو د معلوماتو پیدا کولو لپاره غیر رسمي سرچینو ته مخه کړي، دغه ستونزه حکومت هم له ډېرو ننګونو سره مخ کړی.

بېلابېلې ننګونې لکه د ګواښونو زیاتېدل، معلوماتو ته نه لاسرسي او یو شمېر مالي ننګونې چې رسنۍ ورسره مخ دي، د رسنیو خپلواکي او په هېواد کې د بیان آزادي ګواښي او د رسنیو پر وړاندې له اصلي ستونزو څخه دي.

## وړاندیزونه

د خبریالانو او رسنیو خوندیتوب ته باید ډیره جدي پاملرنه وشي. د اپریل د ۳۰ مې په برید کې چې ۹تنه خبریالان یې ووژل او اووه نور یې ټپیان کړل، دخبریالانو په وړاندې د جدي تاوتریخوالي ښکارندویي کوي ، مسوول چارواکي، امنیتي ادارې او رسنۍ پکې شاملې دي، د داسې بریدونو احتمال خورا جدي دی، چې کولی شي د رسنیو او بیان آزادي، کوم چې د هیواد ترټولو مهمه لاسته راوړنه ده، له پښو وغورځوي.

د خبریالانو او رسنیو خوندیتوب باید ډېر جدي ونیول شي، پر خبریالانو د اپریل د میاشتې برید چې ۹ نهه تنه یې ووژل او ۷ تنه نور یې ټپیان کړل، د خبریالانو پر وړاندې د ګواښونو جدیدت ښیې. د امنیتي ادارو او خپله رسنیو په ګډون د مسوولو ادارو نه جدیت په صورت کې د ورته پېښو د بیا تکرار احتمال شته، هغه څه چې کولی شي رسنۍ او د بیان آزادي چې د هېواد له لویو لاسته راوړنو څخه شمېرل کېږي، په ګونډو کړي .

امنیتي ځواکونه د خبریالانو د خوندیتوب لپاره باید ټولې ممکنه لارې چارې ولټوي په خاصه توګه د ترهګریزو بریدونو د خبري پوښښ او ځیرلو په وخت کې، د رسنیو او اړوندو ادارو سره په همکارۍ، د خبریالانو او رسنیو په وړاندې د وژونکو بریدونو مخنیوي لپاره، موثره او اغیزناکه کړنلارې ولټوي. که چیرې دغې برخې ته جدي پاملرنه ونشي نو ډیرې بدې پایلې به له ځانه سره ولري.

رسنۍ هم د خوندیتوب په برخه کې د جدي ګامونو د اخیستو مسوولیت لري او په دې برخه کې اغیزناکې پالیسۍ او پلانونه باید ولري. په ورته وخت کې، رسنیو ته لازمه ده چې خبریالانو ته ټول د خوندیتوب وسایل برابر کړي، په ځانګړې توګه هغو خبریالانو ته چې د ترهګریزو بریدونو سیمې ته لیږل کیږي. دا نه یوازې د رسنیو اخلاقي مسوولیت دی بلکې د هغوی قانوني او اداري مسوولیت هم دی.

د خبریالانو پر وړاندې د تاو تریخوالي د کچې لوړیدو ته په پام سره خبریالان هم مکلف دي چې خپل خوندیتوب ته جدي پاملرنه وکړي او خپل خوندیتوب د رپوټ یا خبر قرباني نه کړي. د خبریالۍ اخلاق دا حکم کوي چې هیڅ راپور د خبریال تر ژوندە ارزښتمن نه دی . هغه خبریالان چې تراوسه یې د خوندیتوب په هکله زده کړې نه دي ترلاسه کړي، باید په دوامداره توګه د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې په روزنیزو پروګرامونو کې ونډه واخلي .

له خبریالانو څخه ملاتړ کوونکې اداري باید د حکومت او رسنیو له مسوولینو سره په ګډه په دغه برخه کې د هغوی د خوندیتوب لپاره لازم تدابیر په نظر کې ونیسي، دغه اداري باید په دوامداره توګه عدالت غوښتنې، او همدارنګه د خبریالانو د خوندیتوب لپاره کار وکړي .

نړیواله ټولنه دې هم د خبریالانو خوندیتوب جدي ونیسي او افغان دولت دې اړ کړي چې په دې اړه جدي اقدامات وکړي. خپلواکه نړیوالې موسسې لکه ملګري ملتونه باید هڅه وکړي، چې ترهګرې ډلې قانع کړي چې په خبریالانو او رسنیو بریدونه و نه کړي.

دپورته ستونزو په نظر کې نیولو سره معلوماتو ته لاسرسی په یوې اوږد مهالې ستونزې بدل شوی، افغان حکومت باید ددې ستونزې د اواري لپاره نوې تګلارې غوره کړي، ددې وضعیت دوام نه یوازې داچې خبریالي او د بیان ازادي له ننګونو سره مخ کوي بلکې د معلوماتو د رسونې لپاره له ترهګرو ډلو سره مرسته کوي، هغه څه چې ترهګرې ډلې ترې ډیره ګټه پورته کول غواړي .